مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سمسور ودان ۲۰۲۲/۰۸/۲۹

# حال مي واخله!

## نظم

ته پوهېږې په کوم حال یم
چي ژوندی یمه؛ که نه یم
حال مي واخله ګل اندامي
ماه رخي در دنداني
اضطراب مي زړه نیولی
له سندرو ترنګ الوتی
د تپو هم خونده نشته
رنګ و خوند له هر څه تللی
ساندې ساندې مي هر غړ دی
ټوله ورځ شي په څور تېره
ټوله شپه په ژړاګانو
په دردمنو خنداګانو
احساسات مي ټول بایللي
هر ښه خوی مي کډه کړي
تش خالي کالبوت لګیا یم
زنګ مي سپین زړګی تور کړی
یوه ورځ به مي تمام کړي
دا یو څو بهاره عمر

***

ته پوهېږې په کوم حال یم
چي ژوندی یمه؛ که نه یم
حال مي واخله ګل اندامي
ماه رخي در دنداني
لا لګیا یمه ژوندی یم
خدا که مړ یم، خو دا خلک
ما ژوندی بولي، ژوندی
مګر زه دومره بې حال یم
پاڅم وناڅم، ګډیږم
ښه وي ورک شمه له ځانه
له دې سپې وړې دنیا نه
خو چي څنګه را دمه شم


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هيله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکي په څیر و لولئ

په حواسو کې ښکاره شم
بیا ځوریږمه، ژړیږم
په دې چیغو کې بدل شم
اکر واړوم خندا ته
یوه له سوخته خندا وکړم
چې د هر درد منظره وي

***

ته پوهېږې په کوم حال یم
چې ژوندی یمه؛ که نه یم
حال مې واخله ګل اندامي
ماه رخي در دنداني
تورې سترګې مې را سرې شي
ته وا خښلې مې په لپو
د ساقي له لاسه مل دي
نه نه داسې هم څه نشته
بې بنیاده الزام ولې؟
په ساقي بې ګناه پورې!
زما سترګې تورې سترګې
را سرې کړې د چا یاد دي
هغه یاد چې ما په ورو ورو
قتلوي او زه یې وینم
چې په مخ کې یې بې وس یم
سندرمار مرغه به یم خو
اوس نیولی صیاد دله
نه مې وژني، نه پرېږدي

***

ته پوهېږې په کوم حال یم
چې ژوندی یمه؛ که نه یم
حال مې واخله ګل اندامي
ماه رخي در دنداني
دا دی بل پسرلی لنډ دی
دا دی بل قیامت به راشي
ته به نه یې زه به ورک یم
د شنشوبې په خوشبو کې
د لاله په سرو رنګو کې
د هر خار په حصارو کې
نیم به روغ نیم به تباه یمه
خو بس خلاصه چې مړ ژواندی
یار دې دا ځل تسلیمېږي
تر بل دیده نه رسیږي
زه تر کومې وجنګیږم
لا تر څو دردونه غلې
د څو څړیکو په وېستو کړم
سره لمبه مې هر پرهر کړم


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

***

ته پوهېږې په کوم حال یم
چي ژوندی یمه؛ که نه یم
حال مي واخله ګل اندامي
ماه رخي در دنداني
خلک خاندي زما په حال پسي
ستا وروستۍ نښي سمبال پسي
زما د ژوند وروستي مرام پسي
خو دوی خپل ګریوان نه ویني
چي تک سور دی بیخي سور دی
د یتیمو په اهونو
د سرتورو عزتونو
په داغونو، په لاشونو
زه د دوی په نیکۍ پوه یم
د یتیم په سر لاس راښکي
خو چي خنګه توره شپه شي
د یتیم مور ته وردرومي
بیا نو خدای ها محشر ویني
چي په کونډې ښځي تېر شي

***

ته پوهېږې په کوم حال یم
چي ژوندی یمه که نه یم
حال مي واخله ګل اندامي
ماه رخي در دنداني
هره خوا توره تیاره ده
بیخي هر څه نه بېزار یم
په هر واټ کي للهانده
ګرځم، وایمه که چېرې
دغه خلک رابیدار شي
په خپل حال لږ رحم وکړي
د جابرو حساب واخلي
په بې وزلو نظر وکړي
په خپل لاس خپلو ځانو ته
له ښاماره نجات واخلي
دوی به خو پورې ولاړ وي
مومن خان ته به ایسار وي
ښه خو دا ده چي راپاڅو
لیه لاس نور په تفنګ کړو

***

ته پوهېږې په کوم حال یم
چي ژوندی یمه که نه یم
حال مي واخله ګل اندامي
ماه رخي در دنداني
سترې سترۍ یم ختمېږم
هر یو تک د عقربې مي

---


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

مرګ ته وړي له تا نه لرې
خو زه ژوند غواړم لالیه
یو وروستی ارمان مې پاتې
لا مې خو ساوې خواهش شته
بس چې دا خاوره په امن
دا وګړي په خیریت
تا په سور سالو کې مسته
د ګودر خوا کې خندانه
یو وروستي نظر کې واخلم
او بیا سترګې کړمه پټې
چې ارامه شم هوسا شم
له دردونو نجات واخلم
...
جلال کوټ/ ۲۰۲۱/۱۰/۸ــ ۴:۵۰ pm


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ